سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۶/۰۳

# په خاوره د کابل.........!

په خاوره د کابل باندی، تـوفـان  راغلی دی

«آدم» پسي جنت له، بـیا شیطان راغلی دی

دسترګو او له زړونـو، وینی ځاځی د هرچا

چړو سره قصاب، له «پا کستان» راغلی دی

«غنی» او «عبدالله» دی، اوس کوی ورته آتڼ

بچی د «میکناټن» تر «اکبر خان» راغلی دی

ولاړ یی هرکلی تـه،  دی د کـلـی مُـفـسـدان

«مسکو» او «واشنګټن» نه، مُسلمان راغلی دی

د میني «قرآن» ایښی، په تاقچه کی دی ملا

د قهر کتاب لاس کی، طالب جان راغلی دی

جنت ګټي په مرګ، د «ابراهیم» باندی «نمرود»

دا بیا د «رب ج» د رحم، کوم دوران راغلی دی؟

له دین نه دام جوړ شوی، د رحمن بابا په قول

وحشت زمونږ کوڅو ته، دجهان راغلی دی

پوهیږو به مونږ کله، په مرض د خپل وجود؟

مرض د ناپـوهـی، لـکه سرطان داغلی دی

پګړی شوی د زړوکو سره، وینو کی خیشتي

قیامت جوړ کلیواله، په افغان راغلی بیـــا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com